# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي څلورمه | د ۲۰۲۱ د مې ۲۵مه | ۷۲۱مه ګڼه


## ځېره

۴ مخ



### پاتریک مودیانو

مودیانو د مارشل پروست په څېر د انساني ژوند بنسټیزو مسایلو ته اشاره کړې ده، د بشري ژوند د ښه کېدو لپاره یې نظریات وړاندې کړي دي، د تېرې زمانې د برم او انساني عظمت د ژوندي کولو لپاره هڅه کوي او له همدې کبله یې د نوبل جایزه هم ګټلې ده.

## حکومت سپیناوي ته نه تیارېږي؛

### ولسي جرګه: په ګمرکونو کې هر کال نږدې درې میلیارده ډالر حیف میل کېږي



۳

### کرنې ریاست: د هلمند د غنمو سرېني حاصلات به له ۵۰۰ زره ټنو واوړي



د هلمند د کرنې ریاست چارواکي وایي، چې په دغه ولایت کې د غنمو لو پیل شوی، چې د اټکل له مخې د یاد ولایت د غنمو سرېني حاصلات به نږدې ۵۰۰ زره ټنو ته ورسېږي.

د هلمند د کرنې رییس زلمی الکو وایي، چې سږکال د دغه ولایت په ۱۱۵ زره هکټاره ځمکه غنم کرل شوي، چې له دغو کروندو څخه به د اټکل له مخې، نږدې ۵۰۰ زره ټنه غنم ترلاسه شي.

الکو وایي، چې د نورو کلونو په توپیر د هلمند سرېني غنم له نباتي ناروغیو او افتونو پاک دي. هغه زیاتوي، چې کرنې ریاست په کرنیزه برخه کې ډېرو هلمندي کروندګرو ته روزنه ورکړې او ترڅنګ یې د غنمو بېلابېل اصلاح شوي تخمونه هم ورته ورکړي دي.

په همدې حال کې هلمندي بزګران هم د غنمو له حاصلاتو خوښ دي او وایي، سږکال د نورو کلونو په پرتله د غنمو د ښه حاصلاتو هیله لري. هغوی وایي د تېرو کلنو په پرتله دغنمو سرېني کروندې له هرډول طبیعي افتونو او ناروغیو پاک دي.

### د جګړې په شدت کې له ناورین سره مخ ولس

۲ مخ

### سرنوشت افغانستان پس از خروج نظامیان امریکایی

۲ مخ

### د روان کال په پیل کې د چین اقتصاد ښه لور ته روان دی...

۳ مخ

### لاوروف: افغانان دې د خپل هېواد د راتلونکي په اړه رغوونکې خبرې او پرېکړې وکړي

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګې لاوروف وایي، هېواد به یې په افغانستان کې د روانې اوږدې جګړې د پای ته رسولو لپاره خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړي. لاوروف زیاته کړې، چې راتلونکې میاشت د افغانستان لپاره ډېره مهمه ده او دوی تمه لري چې په وضعیت کې د پام وړ مثبت بدلون رامنځته شي.

نوموړي زیاته کړې، دا په افغانانو پورې اړه لري چې له خپلو وړتیاوو څخه په استفادې د خپل هېواد د راتلونکي په اړه رغوونکې خبرې او پرېکړې وکړي، خو هغه ټینګار کړی، چې هېواد یې د ټولو هغو هڅو ملاتړ کوي چې په افغانستان کې د وضعیت ښه والي سره مرسته کوي. هغه دغه راز ویلي چې روسیه او د ترویکا پروسې ګډونوال به په افغانستان کې د ملي پخلاینې لپاره خپله فعاله ونډه ادا کړي.

روسیه داسې مهال دغه څرګندونې کوي چې په دې وروستیو کې د هېواد په ډېریو ولایتونو کې جګړو او نښتو زور اخیستی، خو د سولې پروسه لاهم په ټپه ولاړه ده او کوم ښکاره پرمختګ پکې نه لیدل کېږي. له دې سره جوخت په کور دننه او نړیواله کچه هڅې پیل شوي چې د بهرنیو ځواکونو له وتلو مخکې په افغانستان د سولې خبرې یوې پایلې ته ورسېږي.

### وکیلان: خلیلزاد د جګړې د ختمولو پر ځای د کورنۍ جګړې د پیل په لټه کې دی



۲ مخ

### هیأت نظارتی ولسی جرگه:

### طیاره اردوی ملی با راکت رهبری شده ساقط شده است




هیأت نظارتی کمیسیون امور دفاعی و تمامیت ارضی ولسی جرگه دیروز گزارش خود پیرامون سقوط یک طیاره اردوی ملی در ولسوالی بهسود وردک و تحولات پس و پیش از آن را به این جرگه ارایه کرد.

براساس معلومات گزارش این هیأت، طیاره نوع (MI-۱۷) اردو توسط افراد مسلح غیرمسوول سقوط داده شده است. گزارش هیأت نظارتی ولسی جرگه نشان می‌دهد که این طیاره توسط راکت دوربرد رهبری شده ساقط شده است. هرچند نوعیت راکت شلیک شده به این طیاره تاکنون نزد مسوولان وزارت دفاع ملی مبهم مانده، اما در این گزارش گفته شده که براساس ارزیابی همکاران بین‌المللی وزارت دفاع، این راکت از نوع Anti Tang Guided Missile یا (ATGM) بوده است.

هم‌چنان براساس معلوماتی که در جعبه سیاه این طیاره ثبت شده، پیلوت این طیاره قبل از سقوط گفته است که هاوان در نزدیک طیاره اصابت کرده و باید به سرعت از منطقه دور شوند. علاوه بر این، نظارت هیأت ولسی جرگه نشان می‌دهد، علی‌رغم این‌که طیاره‌های نوع PC-۱۲ و AC-۲۰۸ در ساحه موجود بوده، اما هیچ نوع آسیب‌شناسی از احتمال وقوع حوادث از سوی بخش‌های ذی‌ربط وزارت دفاع ملی انجام نشده است.


## فروش خانه رهایشی



خانه رهایشی به مساحت {896 متر مربع} واقع {ناحیه 11 لیسه مریم، کابل -افغانستان} به قیمت مناسب به فروش رسانیده میشود. ضرورت مندان و اشخاصیکه خواهان خریداری آن باشد به شماره تلیفون های ذیل تماس گرفته معلومات اخذ نمایند.

+93 (0)797888154 / +93 (0)798888802

## سرلیکنه

# د جګړې په شدت کې له ناورین سره مخ ولس

په وروستیو کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې درنو جګړو د ښکېلو اړخونو ترڅنګ ملکي وګړو ته هم پراخ مالي او ځاني زیانونه اړولي دي. په بغلان، لغمان، کندهار، هلمند او ګڼو نورو ولایتونو کې د جګړې له امله ګڼو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې. د ډېرو خلکو کورونه نړېدلي دي، ډېرې کسان بې ځایه شوي او ډېرو ته پراخ مالي زیانونه هم اوښتي دي. د جګړې دا شدت او ډول ولسي وګړي له یو جدي ناورین سره مخ کړي او د جګړې دوام به حالت تر دې لا زیات خراب کړي.
د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د همغږۍ اداري (اوچا) ویلي چې په روان کال کې سل زره کسانو خپل کورونه پرې اېښي دي. که وروستۍ شمېرې ورسره یو ځای شي، ښایي د کورنیو بې ځایه شوو شمېر تر دې هم زیات شي.
له بده مرغه د جګړې دواړه غاړې د جګړې ټول اصول او اخلاق تر پښو لاندې کوي. د دوی د جګړې ډول داسې دی چې په طبیعي ډول پکې ملکي وګړي زیانمېږي. دا جګړه د ملکي وګړو په کورونو، ځمکو، باغونو، لویو او کوچنیو لارو کې ده. جګړه په هغه ځای کې ده چې له ملکیانو ډک وي. دا جګړه نه په غرونو کې ده او نه هم په دښتو کې، له همدې امله د دې جګړې تر ټولو ستر مالي او ځاني زیان ملکي وګړو ته اوړي. له بده مرغه طالبان د خلکو له کورونو، ځمکو او باغونو څخه پر حکومتي ځواکونو بریدونه کوي. حکومتي ځواکونه هم ډېر وخت په هغه ځایونو کې مرکزونه او پوستې جوړوي چې هلته ملکي وګړي اوسېږي. کله چې طالبان پر حکومتي ځواکونه بریدونه کوي، نو حکومتي ځواکونه هم د ملکي وګړو ژوند او مال ته پام نه کوي او بریدونه کوي. په دې ډول هم طالبان د ملکي وګړو ژوند او مال ته پام نه کوي او هم حکومتي ځواکونو ته دا چاره مهمه نه ښکاري.
ښکاري چې راتلونکې څو میاشتې به لا سختې جګړې وشي. ولسوالۍ به لاس پر لاس شي. په لویو او کوچنیو لارو به بریدونه وشي. ملکي وګړي به په جګړو کې را ګېر شي، کورونه به یې ونړول شي، په ځمکو او باغونو کې به یې جګړه وشي، بمبارۍ به پرې وشي، په لارو کې به د سړک غاړې ماینونو قرباني شي او په هره جګړه کې به پراخ مالي او ځاني زیانونه ور واوړي. په دې ډول به د کورنیو بې ځایه شوو او بې کوره شوو شمېر زیات شي، د معیوبینو، شهیدانو، کونډو او یتمیانو شمېرې به زیاتې شي، خو د جګړې ښکېل اړخونه به بیا هم یو بل مات نه کړي او هېڅ لویه لاسته راوړنه به ونه لري.
دا جګړې یوازې زموږ دردونه او غمونه زیاتوي، له همدې امله پکار ده چې ودرېږي. دواړه اړخونه دې د یو بل وژلو، جګړې او تاوتریخوالي پر ځای په خبرو ټینګار وکړي. شرطونه، سرې کرښې او نور خنډونه باید لرې شي او دواړه اړخونه باید د خلکو دغه درد، کړاو او ستونزو ته وګوري او نور له دې خلکو سره ظلم او زیاتی بند کړي. ددې لاره یوازې همدا ده چې په واقعي مانا د سولې هڅې وکړي، قربانۍ وکړي او افغانان له دې عذابه خلاص کړي.


# سرنوشت افغانستان پس از خروج نظامیان امریکایی

منبع: **ایروشیا**
نویسنده: **اسپیریدون لیتساس**
مترجم: **سیدجمال اخگر**

نمادگرایی حتی در مواردی که فراتر از ضرورت های استراتژیک باشد، در سیاست بین الملل نقش بسزایی دارد.
روند خروج نظامیان آمریکایی در حال حاضر از پایگاه های مختلف در افغانستان ادامه دارد و تا ۱۱ سپتامبر به پایان می رسد. کاخ سفید تصمیم گرفت پیام قوی را بفرستد که حلقه شرارت را که تروریستان ۲۰ سال پیش باز کردند، برای همیشه بسته خواهد شد و اکنون نظامیان می توانند به خانه برگردند.
اما نمادگرایی کجا متوقف می شود و واقعیت سیاسی دوباره شروع به گاز گرفتن می کند؟
روش های زیادی برای خواندن تصمیم رئیس جمهور بایدن در مورد خروج همه نیروهای آمریکایی از افغانستان و پیامدهای بیشتر برای بحث وجود دارد. نخست، در دوران ریاست جمهوری دونالد ترمپ، ایالات متحده مقدار عظیمی از نفوذ قدرت نرم را که باراک اوباما توانسته بود، برای این کشور ذخیره کند، صرف کرد.
شعار «یک بار دیگر آمریکا را بزرگ می سازیم» در ماهیت ساده ولی عمیقاً یک شعار پوپولیستی بوده که آسیب بزرگی به چهره آمریکا در سراسر جهان وارد کرد.
این آسیب را فقط می توان با تصویر که نشان می دهد «فان تی کیم پک» دختر نه ساله ای ویتنامی در حالی که برهنه برای نجات خود از بمب های ناپالم در منطقه «ترنگ بنگ» ویتنام جنوبی می دود، مقایسه کرد.
بایدن هم اکنون در تلاش است تا تصویر «شهر درخشان بر روی تپه ای» را بازسازی کند و این پیام را می دهد که ایالات متحده آماده گشودن فصل جدیدی در سیاست خارجی خود است. با این حال، همانطور که بارها در گذشته بحث کردم، تصمیم آمریکا برای مقابله آشکار با طالبان و القاعده مشکلی نداشت. برعکس، اگر به افغانستان اجازه داده می شد تا به عنوان سرزمین که شرایط زندگی در آن دشوار است، ادامه می داد مبارزه در مقابل ترور به مراتب نسبت به شهر رقه عراق دشوار می بود.
افسوس طالبان، در افغانستان به حیات خود ادامه می دهند، در حالی که القاعده در صحنه بین المللی، به ویژه در یمن در حال بازگشت است. علاوه بر این، داعش در یمن، لیبیا و جنوب صحرای آفریقا در حال اعلام وجود است.
نتیجه غیرقابل انکار این است که ایالات متحده از افغانستان خارج می شود بدون اینکه حتی صلح و نظم شکننده‌ی را در آنجا تامین کرده باشد و یا بدون این که به طالبان این درک را بدهد که هرگونه رفتار نامنظم عواقب نظامی خواهد داشت.
از نظر استراتژیک، استقامت دیرینه طالبان، به آنها غرور کاذب بخشیده است. این درک را بوجود آورده است که امروز در مقابل عملیات های نظامی روشمند قوی ترین ارتش های جهان آمریکا و ناتو جان سالم بدر برده اند. این واقعیت که طالبان خود را یک قدرت شکست ناپذیر می داند، به متافیزیک رادیکال وجود آنها می افزاید و نگرانی های جدی در مورد وضعیت صلح در افغانستان در ۱۲ سپتامبر و بعد از آن ایجاد می کند.
برخی می گویند که تصمیم خروج بایدن بعنوان شریک اندیشه اوباما واقع بینانه است.
در آخرین کتاب من «سیاست خارجی ایالات متحده در مدیترانه شرقی: سیاست قدرت و ایدئولوژی زیر آفتاب»، من به شدت از نظریه که این استدلال ها را درست میداند، حمایت می کنم.
چه کسی می تواند در صداقت آمریکا در مورد افغانستان پس از طالبان شک کند در حال که در طی سال‌های پس از ۱۱ سپتامبر این همه زندگی و پول صرف شده است؟
بایدن با پذیرفتن آنچه شوروی‌ها، انگلیسی‌ها، فرانسوی‌ها، یونانی‌ها و پارسی‌ها در طول قرن ها به آن پی برده اند، به همه اینها نقطه پایان می گذارد: شما نمی توانید منطقه ای را تسخیر کنید که صریحاً روش متعارف تفکر سیاسی را رد کند، و دارای مراکز شهری کم و دشوارترین اراضی که یک ارتش می تواند با آن مقابل شود، باشد.
گرفتن چنین امتیازی از قدرتمندترین ارتش که بشریت شاهد بوده است، پایان رسمی «به اصطلاح عصر آمریکایی» را رقم می زند، که با ورود ایالات متحده به جنگ جهانی اول آغاز شده بود. چندین دهه است که سیستم بین المللی چند قطبی است. با این حال، مورخان آینده از روز خروج نهایی آمریکا از افغانستان برای نشان دادن پایان رسمی یک دوره استفاده می کنند.
آینده برای افغانستان چی به ارمغان می آورد؟
افسوس که نشانه‌ای از آینده‌ی خوب وجود ندارد.
افغان ها باید از خودیاری کارآمد و عملیاتی استفاده کنند و به شدت با بازگشت طالبان روی صحنه اصلی مخالفت کنند. این بدین معنی است که برای اولین بار میهن پرستی افغان ها باید بر قوم گرایی و حزب گرایی پیروز شود. به عبارت دیگر، چالش برانگیزترین کار افغانستان کاوش در اعماق سیستم وستفالی و ظهور به عنوان یک کشور ملی متعارف است.
و آینده‌ی سیستم بین المللی چگونه خواهد بود؟
از اظهارات رئیس جمهور آمریکا و نزدیکان وی، بدیهی است که آمریکا حتی بیشتر بر روند بازدارندگی مضاعف نسبت به چین و روسیه متمرکز خواهد شد.
تضاد بیشتر خواهد شد. با این حال، همانطور که من مرتباً در سخنرانی ها و نوشته هایم بحث می کنم ، این باعث ثبات بیشتر سیستم می شود تا بی ثباتی سیستم از این گذشته، در سطح بین المللی همیشه اختلافات و تضادهای مداوم وجود دارد، به این معنی که شرایط چند قطبی به آنچه تیوری روابط بین الملل «ناهنجاری سیستماتیک» می نامد نزدیک می شوند.
پایان عصر آمریکایی یک واقعیت است. اما این بدان معنا نیست که ایالات متحده قوی ترین و با نفوذترین دولت غربی در سیاست بین الملل نیست. برعکس، افزایش تضاد بین ایالات متحده، روسیه و چین به واشنگتن این امکان را می دهد تا هدف ژئواستراتژیک فرا اقیانوس را به عنوان ابزاری ارزشمند برای مقاومت در برابر فشار سیستماتیک و تنوع بخشیدن به مهارتهای سخت و نرم فوق العاده و منحصر به فرد خود، احیا کند.
بایدن بیش از همه توانایی دستیابی به این انتقال عظیم را به نرم ترین شکل ممکن دارد.
اسپایردن لتساس استاد روابط بین الملل در دانشگاه مقدونیه در یونان و در آکادمی ربدان در ابوظبی، امارات متحده عربی است.

## قریشي: له طالبانو سره ښې اړیکې لرو، خو کنټرول پرې نه لرو

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي وایي چې پاکستان له طالبانو سره ښې اړیکې لري، خو کنترول نه پرې لري.
قریشي په نیویارک کې د ملګرو ملتونو په عمومي اسمبلۍ کې د فلسطین او اسراییل په اړه له بحث وروسته له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو، له طالبانو سره د پاکستان د اړیکو او ځینو نورو مسائیلو په اړه د رسنیو پوښتنې ځواب کړې.
له نوموړي څخه د پاکستان او طالبانو د اړیکو په اړه هم پوښتنه وشوه. هغه وویل: «پاکستان له طالبانو سره ښه روابط لري، خو کنترول پرې نه لري.»
هغه په دې اړه ډېر جزیات ورنه کړل، خو ویې



ویل چې په افغانستان کې سوله د افغانانو په ګټه ده او طالبان هم افغانان دي. دا په داسې حال کې ده چې افغان حکومت تل پاکستان تورن کړی، چې طالبان او د طالبانو مشران پالي، ساتي او بیا یې افغانستان ته د جګړې لپاره استوي. پاکستان دا تور ردوي.
تېره اونۍ ولسمشر غني د جرمني له شپېګل سره په مرکه کې په ښکاره دا خبره وکړه چې پاکستان له طالبانو سره ژورې اړیکې لري.
غني وویل، پاکستان په سیستماتیک ډول د طالبانو ننګه کوي او د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته له افغانستان سره د دوستۍ او دښمنۍ انتخاب د پاکستان په لاس کې دی.
څه موده مخکې د پاکستان لوی درستیز جنرال قمر باجوه کابل ته د خپل سفر پر مهال ویلي وو چې د طالبانو امارت او دیکتاتوري د سیمې د هېوادونو په ګټه نه دي.
دا خبرې داسې مهال مطرح کېږي، چې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتل پیل شوي او په پام کې ده چې د روان ۲۰۲۱ د سپتمبر په یولسمه دا بهیر بشپړ شي. په همدې حال کې طالبانو په افغانستان کې خپلو بریدونو ته زور ورکړی او ورسره د سولې خبرې هم په ټپه ولاړې دي.

## وکیلان: خلیلزاد د جګړې د ختمولو پر ځای د کورنۍ جګړې د پیل په لټه کې دی

امریکا په افغانستان کې د کورنۍ جګړې په لټه کې ده. د ولسي جرګې ځینې غړي وایي، د افغان سولې لپاره د امریکا ډیپلوماتیک ماموریت د دې پر ځای چې د جګړو له کمولو سره مرسته وکړي، برعکس د جګړو د ډېرېدو او تاوتریخوالي سبب شوی دی.
د ولسي جرګې غړي الله ګل مجاهد وویل چې زلمی خلیلزاد او ورسره مل پلاوی یې په رښتیني توګه د جګړې د کمولو په لټه کې نه دي، بلکې په دې لټه کې دي چې افغانستان د کورنۍ جګړې لور ته بوځي.
نوموړي پر وکیلانو غږ وکړ چې یو شل کسیز پلاوی جوړ کړي او له طالبانو سره د مخامخ خبرو لپاره دې چمتووالی ونیسي.
هغه زیاته کړې چې د حکومت ډېری



چارواکي پردي دي، له نورو هېوادونو راغلي او له امریکا سره یو ځای به له دې هېواد ځي، نو ځکه دوی ته د افغانستان سوله مهمه نه ده. وکیلانو ټینګار وکړ چې نړیوال دې هم په افغانستان کې د جګړې د کمولو لپاره هڅه وکړي او نړیوال بنسټونه دې هم په دې برخه کې خپلې همکارۍ ډېرې کړي. بلخوا د جرګې ډېریو غړو په هېواد کې روانې جګړې د جدي اندېښنې وړ بللې دي. وکیلان وایي چې د هېواد په ځینو ولایتونو کې سختې جګړې پیل شوي او د تاوتریخوالي اوج د جدي اندېښنې وړ دی. دوی وایي، سره له دې چې ټول اړخونه په افغانستان کې د مذاکراتو او خبرو ملاتړي دي، خو طالبانو جګړې شدیدې کړې دي. د ولسي جرګې غړي عبدالقادر قلاتوال په خپلو خبرو کې وویل چې د جګړو د اوج پر مهال د سولې مذاکرات په ټپه ولاړ دي او باید په اړه یې وضاحت ورکړل شي. د ده په خبره، ټول افغانان ژر تر ژره د جګړو د پای ته رسېدو غوښتونکي دي او دواړو لورو ته په کار ده چې تاوتریخوالی کم کړي او د سولې هڅې چټکې کړي. دوی پر امنیتي ادارو هم نیوکه وکړه، چې د طالبانو د بریدونو پر وړاندې پر وخت اقدام نه کوي او له هغه وروسته عملیات پیل کړي چې وسله وال د ښارونو مرکزونو ته ننوتي وي او یا یې ولسوالۍ نیولې وي. دوی پر امنیتي اداراتو غږ وکړ چې د وضعیت د کنټرول لپاره خپل اقدامات ډېر کړي.

# د روان کال په پیل کې د چین اقتصاد ښه لور ته روان دی او د نړیوال اقتصاد د بنسټ ډېره بلل کېږي



**وانګ یو**
په افغانستان کې د چین لوی سفیر

د چین د احصاییې ملي اداره وایي، چې د دې هیواد اقتصاد د ۲۰۲۱ کال په لومړۍ ربعه کې په لوړه کچه وده کړې او د کورنیو تولیداتو عمومي ارزښت یې څلورویشت زره نهه سوه یو دیرش میلیارده یوانو او ناخالص تولید یې د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۱۸.۳ سلنه او د تېر کال د څلورمې ربعې په پرتله ۰.٦ سلنه زیاتوالی ښیي. چین د نړۍ دویم لوی اقتصاد دی او هڅه کوي، چې د خلکو ژوند او روغتیا وساتي او اقتصادي او ټولنیز پرمختګ یې سره یوځای کړي او یو لړ قانوني، ساینسي او منظم اقدامات یې نیولي دي، نو څکه یې کورني اقتصاد ثابت، پیاوړی او دوامداره پرمختګ ساتلی دی. د چین اقتصادي وضعیت د روان کال په لومړۍ ربعه کې ښه روان و او د دغه هیواد اقتصاد د نړیوال اقتصاد د بیا سمسورتیا بنسټیزه ډېره بلل کېږي.

د ۲۰۲۱ په لومړۍ ربعه کې د چین د اقتصادي پرمختګ څلاند ټکي:

۱ـ د چین بازار باور او توقعات د پام وړ ښه شوي. د ۲۰۲۱ کال په مارچ کې د چین د تولید مدیر پېرود شاخص ۵۱.۹ سلنه و، چې د تېرې فبرورۍ په پرتله ۱.۳ سلنه لوړ و او د غیر تولید سوداګریز فعالیت شاخص یې ۵٦.۳ سلنه ښودل شوی، چې دا هم د فبرورۍ په پرتله ۴.۹ سلنه لوړوالی ښیي.

۲ـ د چین د بازار څواک په مؤثره توګه هڅول کېږي. د ۲۰۲۱ کال په لومړۍ ربعه کې د چین په بازار کې د مالیې معاملاتو ۲.۷۹۲ میلیونه نوي شرکتونه جوړ شوي، چې ۸٦ سلنه ډېروالی ښیي.

۳ـ د چین د پانګونې او لګښت ثابتوالی بیا عادي شوی. د روان کال په لومړۍ ربعه کې د چین ثابته پانګونه ۲۵.٦ سلنه زیاته شوې او د مصرفي توکو پرچون یې ۳۳.۹ سلنه لوړ شوی دی.

۴- د چین په بهرني تجارت او پانګونې کې د پام وړ زیاتوالی راغلی. د روان کال په لومړۍ ربعه کې د ژن مین بي په شمېرنې د مالونو د صادراتو او وارداتو ارزښت په بېلابېله توګه ۳۸.۷ سلنه او ۱۹.۳ سلنه زیات شوی او د بهرنیو پانګو کارول یې ۳۹.۹ سلنه لوړ شوي دي.

۵- د چین صنعتي تولید ګړندۍ وده کړې. د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ ربعه کې د لویو صنعتي تصدیو اضافي ارزښت ۲۴.۵ سلنه لوړ شوی، د صنعتي بریښنا مصرف یې ۲۳.۹ سلنه او د ریل پټلۍ د مالونو لیږد رالیږد حجم یې ۱۳.۹ سلنه لوړ شوی دی. له دغو شمېرو ښکاري چې له ۲۰۱۳ کال راهیسې د چین د صنعتي ظرفیت کارولو کچه تر ټولو لوړه ده.

٦- د چین د نوې متحرکې انرژۍ د پرمختګ سرعت ښه روان دی. د روان کال په لومړۍ ربعه کې د چین د لوړ ټیک تولید اضافي ارزښت ۳۱.۲ سلنه زیات شوی دی.

۷- د چین د خلکو ژوند ثابت پرمختګ کړی دی. د روان کال په لومړۍ ربعه کې د ملکي وګړو منځني عایدات ۱۳.۷ سلنه زیات شوي، په دغه هیواد کې د ښې او پاکې هوا د ورځو تناسب ۸۰.۹ سلنه ښودل شوی او د چین په منځنیو او لویو ښارونو کې په هوا کې د کوچنیو ذراتو اوسط غلظت ۲.۲ سلنه ټیټ شوی دی.

د چین اقتصاد اوس عموماً د بیا تازه کېدو په حال کې دی، نو د دغه هیواد حکومت غواړي، چې په ځینو برخو کې هر اړخیز کارونه وکړي، چې ځیني یې دلته راخلم:

۱ـ د چین حکومت په پام کې لري، چې د شرکتونو لپاره تلپاتې اسانتیاوې برابرې کړي. د چین حکومت به د لازیاتو عادلانه او خیریه تګلارو له لارې په بازار کې له شرکتونو څخه ملاتړ پیاوړی کړي، د خلکو لخوا د لارو چارو د ایجاد او نوښت لپاره به هڅې وکړي، د کوچنیو شرکتونو لپاره به د مالیې او فیس کمولو تګلارو ته وده ورکړي او د مالیاتو کمولو نوي جوړښتي تدبیرونه به پلي کړي.

۲ـ چین به د عادلانه سیالیو لپاره د سوداګرۍ چاپیریال ښه کړي. چین به د ښې حکومتوالۍ لپاره اصلاحات پرمخ بوځي، د شرکتونو او تصدیو د منظورۍ په پروسه کې به اړوندې مرحلې، توکي او لګښت کم کړي، د کارونو د بهیر او وخت ځارنه به پیاوړې کړي، په ځینو سیمو کې به د سوداګرۍ ارزونه تر سره او په لوړ معیار سره به د بازاري سیستم عملي پلان وړاندې کړي او د پلیټ فارم اقتصاد په برخه کې به د انحصار ضد لارښوونې خپرې کړي او د فاکتور په بازاري تخصیص کې به اړوندو اصلاحاتو ته پرمختګ ورکړي.

۳ـ چین به په لوړې سویې سره ورخلاصون وهڅوي. د چین حکومت وایي، چې د بهرني تجارت او پانګونې په برخه کې به ځینې ملاتړ کوونکې تګلارې پلې کړي، د بهرني تجارت او پانګونې عمومي حالت به ښه او ټینګ وساتي، د ازاد تجارت د ازمویښتي سیمو ابادي به پرمخ بوځي، د های نان د ازادې سوداګرۍ د بندر ابادي به چټکه کړي، چې اوسمهال یې لومړنۍ نتیجې تر لاسه شوې او د (RCEP) تړون د پلي کولو لپاره چمتووالی نیسي. چین د یو کمربند او یوې لارې په ګډې ابادۍ او اقتصادي او تجارتي نړیوالو همکاریو کې د پام وړ لاسته راوړنې لري. سربېره پردې چین د نوي ښاري کېدو پر لوري روان دی. دغه هیواد د سیمو لویې ستراتیژۍ پلي کوي، د ساینسي او ټکنالوژیکي اختراعاتو ظرفیت پیاوړی کوي، د تولید د لوړ کیفیت پراختیا هڅوي، د کلیو د سمسورتیا او د کلیو او کرنې د عصري کېدو پر لوري نوي ګامونه پورته کوي او اوج ته د کاربن رسېدو او کاربن نیوټرالیزشن فعالې چارې تر سره کوي.

د نړۍ په مختلفو هیوادونو کې د کوویډ-۱۹ ناروغۍ حالات بېل او پېچلي دي او په پرمختیایي هېوادونو کې د واکسین کولو سرعت عموماً ورو روان دی، چې له امله یې د اقتصاد بیارغونه هم پڅه روانه ده. هیله ښښونکی او ښه خبر دا دی، چې د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) د مې په ۷مه نېټه، د چین د درمل جوړونې ګروپ د بیولوژیکي محصولاتو انسټیټیوټ یو ډول واکسین د اضطراري کارونې لپاره تایید کړ. دغه سازمان مخکې هم د لوېدیځو هیوادونو د کوویډ-۱۹ ضد ځینو واکسینونو ته د بېړنۍ کارونې اجازه ورکړې، خو دا لومړی ځل دی چې داسې واکسین ته د بېړنۍ کارونې اجازه ورکوي، چې په لوېدیځو هیوادونو کې نه دی جوړ شوی. دغه واکسین به د مختلفو پرمختیایي هېوادونو لپاره د انتخاب نورې ډاډمنې ښې لارې پرانیزي، په نړۍ کې د واکسینونو د کښمت ستونزه به تر یوې اندازې پورې حل کړي او واکسین ته لاسرسی به اسان او اړوندې چارې به ګړندۍ کړي.

چین د افغانستان دوست ګاونډی او ستراتیژیک ملګری دی او د افغانستان سوله ییزې بیارغونې او اقتصادي او د خلکو د معیشت پرمختیا ته ژوره پاملرنه کوي او ګډون پکې لري. چین ژمنه کړې، چې افغانستان ته به د کوویډ-۱۹ ضد څلور لکه ډوزه واکسین ورکړي او غواړي، چې د پرمختیایي او پرمختللو هیوادونو تر منځ «د معافیت خندق» له منځه یوسي. د کوویډ-۱۹ په ښه کنټرول کېدو سره به د چین لوی کورنی بازار او د مصرف لویه وړتیا د نړیوال اقتصاد لپاره د پرمختګ متحرکه قوه برابره کړي. چین به د نړۍ له بېلابېلو هیوادونو، په ځانګړې توګه د افغانستان په ګډون د «د یو کمربند او یوې لارې» په اوږدو کې له پرتو هېوادونو سره همکارۍ پیاوړې کړي او له یادې ناروغۍ څخه د خلاصون او د سوله ییزې پراختیا په تر لاسه کولو کې به خپل رول لوبوي.

# حکومت سپیناوي ته نه تیارېږي؛

## ولسي جرګه: په ګمرکونو کې هر کال نږدې درې میلیارده ډالر حیف میل کېږي



سره له دې چې پر حکومت په وروستیو کې د اداري فساد پراخ تورونه دي، خو حکومتي چارواکي په دې اړه وضاحت او ځواب ویلو ته نه دي تیار. تازه د ولسي جرګې غړو تېره ورځ د مالیې سرپرست وزیر ته په ګمرکونو او نورو عایداتي برخو کې د شته فساد په تړاو د وضاحت لپاره بلنه ورکړې وه، خو هغه د ولسي جرګې غونډې ته نه دی حاضر شوی. د ولسي جرګې غړو تور پورې کړ چې نوموړی هم په دې فساد کې ښکېل دی، نو ځکه غونډې ته حاضر نه شو. وکیلانو پر لویې څارنوالۍ غږ وکړ چې د مالیې وزیر وروستۍ څرګندونې دې وڅېړي.

په وروستیو کې په افغان حکومت کې د پراخ فساد په اړه ډول ډول راپورونه خپاره شوي دي. تازه د افغانستان پر روڼتیا د څار بنسټ په یوه راپور کې ویلي وو چې په افغان حکومت په تېره په عایداتي اداراتو کې فساد په پلان شوې او سازمان شوې بڼه روان دی. د دغه بنسټ مشر ادعا کړې وه چې په دې فساد کې د افغان حکومت لوړپوړي چارواکي هم لاس لري او هره ورځ د ملي عوایدو میلیونونه افغانۍ شخصي جیبونو ته ځي. د همدې راپورونو په تړاو د مالیې وزارت سرپرست وزیر هم ځینې څرګندونې لرلې او دا یې منلې وه چې هره ورځ لسګونه میلیونه افغانان له ملي عوایدو غلا کېږي او شخصي جیبونو ته ځي. هغه دا هم ویلي وو چې د ګمرکاتو په فساد کې لوړپوړي مامورین او د ولسي جرګې غړي لاس لري.

تازه تېره ورځ د ولسي جرګې غړو د مالیې سرپرست وزیر د وروستي فساد په اړه وضاحت په اړه د جرګې غونډې ته وربللی و چې هغه دې غونډې ته نه دی حاضر شوی. د هغه دې کړنې د ولسي جرګې د غړو غبرګون له ځان سره درلود او ځینو یې د دې غوښتنه کوله چې سرپرست وزیر دې ژر تر ژره څارنوالۍ ته ور و پېژندل شي او هلته دې د خپلو خبرو په اړه وضاحت ورکړي. د ولسي جرګې مشر میر رحمان رحماني هم د غونډې په پای کې د خبرو پر مهال وویل چې هره ورځ میلیونونه ډالر په ګمرکونو کې د فساد له امله حیف میل کېږي او د ملي شتمنیو لوټ روان دی. د میر رحمان رحماني په خبره، د مالیې سرپرست وزیر پخپله ویلي چې هره ورځ اته میلیونه ډالر له ګمرکونو او بندرونو غلا کېږي نو له همدې امله اړتیا وه چې هغه په دې اړه وضاحت ورکړي. د ده په خبره: «د مالیې د سرپرست وزیر د خبرو پر بنسټ، په دې پراخ فساد کې زورواکي، د مالیې وزارت کارکوونکي، ځینې وکیلان او سیاستوال شامل دي. ددې موضوع د ثابتېدلو لپاره له عدلي او قضایي ادارو غواړو چې موضوع په جدي توګه وڅېړي».

د ولسي جرګې غړو دغه راز خبرداری ورکړ چې له دې مسئلې دومره په اسانه نه تېرېږي او په خبره یې د مالیې وزارت باید ارو مرو د وروستي فساد په اړه وضاحت ورکړي. د ولسي جرګې د رییس میر رحمان رحماني په خبره هره ورځ له ګمرکونو اته میلیونه ډالر حیف میل کېږي چې دا په کابل کې ۲۸۰۰ میلیونه ډالر کېږي او دا د ملي شتمنیو د لوټ په مانا ده چې له دې وطن سره ستر خیانت دی. د ده په خبره: «موږ له دې موضوع دومره په اسانه نه تېرېږو، د مالیې له سرپرست وزیر غواړو چې په فوق العاده غونډه کې ګډون وکړي، د هغو کسانو نومونه افشا کړي چې په دې فساد کې لاس لري. له ټیټ رتبه تر ولسمشره پورې دې د هغو کسانو نومونه افشا کړي چې په ګمرکاتو کې په تعیناتو کې لاس لري». د مالیې سرپرست وزیر داسې مهال د ولسي جرګې غونډې ته نه حاضرېږي چې په حکومت کې د فساد پر لوړېدونکې کچې نیوکې ډېرې شوې دي. د ولسي جرګې غړي هم وایي، د مالیې وزارت د سرپرست نه راتګ په دې مانا دی چې هغه هم په دې معاملو کې شریک دی او باید ملت ته وضاحت ورکړي.

# <u>تازه شمېرې:</u> په نړۍ کې د کرونا وبا د مړو شمېر نږدې درې نیم میلیون کسانو ته رسېدلی دی

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱٦۷ میلیونه او ٦٦۷ زره او ۱۹۷ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۴۸۱ زره او ۹٦ کسان مړه شوي او نږدې ۱۴۹ میلیونه نور ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۳ میلیونه او ۸۹۷ زره او ۴۷٦ ته رسېدلي او ٦۰۴ زره او ۱۱۳ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۲٦ میلیونه او ۸۱۱ زره او ۹۴۷ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱٦ میلیونه او ۸۳ زره او ۵۷۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د پنځه میلیونه او ٦۰۳ زره او ٦٦٦ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او ترکیه د پنځه میلیونه او ۱۸٦ زره او ۴۸۷ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

روسیه، بریټانیا، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

په هند کې تېره ورځ د کروناویروس د مړینو شمېر په داسې حال کې له ۳۰۰ زرو واوښت چې په لویو ښارونو کې د کروناویروس تازه پېښې په راکمېدو او په بېوزله مېشتو لرې پرتو سیمو کې په ډېرېدو دي. د کروناویروس د زیانو مړینو له پلوه هند اوس له امریکا او برازیل وروسته د نړۍ درېیم هیواد دی چې د کرونا د ټولو مړینو ۸.٦ سلنه په دغه هیواد کې رامنځ ته شوې دي. خو د اسوشیټېډپرېس اژانس په وینا، ښایي په دغه هېواد کې اصلي شمېرې له دې څخه هم زیاتې وي.


د هند د روغتیا وزارت ویلي چې په دغه هېواد کې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې ۴۴۵۴ کسان د کروناویروس له کبله مړه شوي چې په دې سره په هند کې د کرونا وبا د مړینو رسمي شمېره ۳۰۳۷۲۰ تنو ته ورسېدله.

## د کتـاب خبـرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

⊙ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسدوراني او ادېتیا سېنها
⊙ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### شپږمه برخه
### نوې لویه لوبه




سېنها: تاسې د يوه روسي عالم يا متخصص يوه ليکنه تائيد کړې، چې د CPEC په هکله ده او دې کار د هند اندېښنې لا زياتې کړې دي. دا ليکنه په خپله مثبته وه او پاکستان ته د بېلابېلو اړيکو د بنسټ په سترګه پکې کتل شوي وو.

دوراني: زه په (۲۰۱۵. ز)کال کې ډېر خوښ وم چې دغه دوه ليکنې مې ترلاسه کړې. يوه اندريو روميکو چې د روسانو د ستراتېژيکو زده کړو په انستيتوت کې دی، ليکلې وه. دا چې هغه د پاکستان په هکله مثبت نظر لري په دې کې هېڅ شک نشته. هغه بله پولينه تيخنووا لندن ميشتې ليکوالې ليکلې وه، هغې موږ حيران کړو او په خپله ليکنه کې يې د يوه نوي زبرځواک چې له پاکستان، چين او روسيې به جوړ وي، پرده پورته کړې وه. هغې ايران هم په دې ډله کې شمېرلی و.

په تېرو څو کلونو کې ما فکر کولو چې دغه څلور هېوادونه په خپلو کې يوه پوهاوي ته رسېږي. خو په دې ليکنه کې لا ډېره خوشبيني ښکاره شوې وه، نسبت هغې ته چې موږ درلوده. خو ISI دوی نه وو ګمارلي، ځکه په دې موقف کې نه و.

سېنها: جنرال صېب روسيې ته د خپل دا وروستني سفر په اړه راته ووایاست؟ (دا مخکې زموږ له وروستۍ ناستې چې و.)

دوراني: روسان لېوال وو، چې زما سره خبرې وکړي. په (۲۰۱۲. ز) کال کې دوی زه يوه هستوي کنفرانس ته وروبللم، خو مخکې له هغې موږ په دوبۍ کې سره وليدل او دا مو واضح کړه چې هستوي کنفرانس به صرف نوم وي، خو موږ به له افغانستان نه د شوروي پوځونو له وتلو وروسته پر ځينو موضوعاتو باندې وغږېږو. دا ځل چې زه وروبلل شوم، ما وغوښتل چې سن پيترزبورګ هم ووينم، نو دوی د پيترزبورګ په دولتي پوهنتون کې د خبرو زمينه راته مساعده کړه، چې پوتين هم راغلی و. دا پوهنتون د ډېرو روسي نوبل ګټونکو له وجې مشهور دی.

ما خبرې وکړې او مسکو ته راغلم او په هستوي کنفرانس کې مې ګډون وکړ، چې ډېر وخت مې په نظامي پوهنتون کې د افغان لاسوهنو په هکله خبرې وکړې. د بهرنيو چارو وزير سرګي لاوروف هم هلته و. ما دا هم ياده کړه چې په (۲۰۱۲. ز) او (۲۰۱۷. ز)کلونو کې په هستوي ميګا کنفرانسونو کې تر روسيې او امريکې وروسته د پاکستان ګډونوال زيات وو، په داسې حال کې چې له هند څخه يوازې يو استازی راغلی و. په لومړي کنفرانس کې سترجنرال و.آر ګوان چې د يوه فکري بنسټ مشري هم کوي، راغلی و. ښه سړی و، مسلکي ښکارېده او خبرې يې هم ګټورې وې. دا ځل هند له بهرنيو چارو وزارته کوم څوک رالېږلي وو.

دولت: جنرال صېب ښه مانا داره شيان وويل، خو زه نه وايم چې موږ په افغانستان کې خپله طرحه ورکه کړې ده.

پوتين په نړۍ کې هغه توند خويه کس دی چې د قوي پاليسۍ له لارې هغه څه ښکاره کوي، چې کوي يې او په دې توګه ټرمپ هم آزمايي. هغه دا وياړ ترلاسه کړی او خپلو استخباراتي مامورينو ته يې مبارکي ورکړې.آن تر دې چې په بهر کې غير قانوني ميشتو روسانو ته يې هم مبارکي ورکړې ده. کېدای شي هغه د مودې يوه بله ښه وي.

دوراني: سمه ده. پوتين خپلې قطعي ښې لوبولې دي. امريکا له هغه سره مرسته کړې چې ځواکمن شي. هغه د کور دننه محبوبيت له لاسه ورکړی و، ان په پيترزبورګ کې چې د ده د اوسېدو ځای دی، هم خلک ترې خوښ نه وو.

دولت: خلک يې ضد دي، خو هېڅ يې پر خلاف نه درېږي.

دوراني: کله چې هغه کريميه ونيوله بېرته يې محبوبيت ترلاسه کړ. اوکراين او کريميه نه يوازې له تاريخي لحاظه، بلکې د دې لپاره چې هلته ډېر روسان اوسېږي د دوی لپاره ډېره مهمه جغرافيه ده. تر دې چې روسان په لوينت هم اغېز وکړ او ان ترکانو د دوی د الوتکې د ويشتلو له امله بېرته پخلاينه ورسره وکړه. پوتين خپلې قطعي ښې ولوبولې او د خپلو خلکو ملاتړ يې بېرته ترلاسه کړ.

دولت: د يلڅېن په وخت کې د KGB زاړه کسان نور په تنګ شوي وو. خو پوتين نه و شوی. هغه به KGB نه شمېرل کېږي، خو هلکان يې لا هم شته چې ځينې يې د ده مټ او بازو دي او نور يې د چټلو کارو لپاره ساتلي دي.

دوراني: سمه ده.

سېنها: شي جي پينګ په (۲۰۱۷. ز)کال کې د پنځو نورو کلونو لپاره خپل واک پياوړی کړ.چين د راتلونکي لپاره لوی پلانونه لري. پوتين غواړي يوازې پخوانی اقتدار ترلاسه کړي. نو آيا «شي» د نړۍ تر ټولو ځواکمن کس نه دی؟

دولت: زه له دې سره مخالفت نه شم کولای. روسان او چينايان ښې اړيکې لري او يو بل ښه درک کوي. توپير په دې کې دی چې چينايان په بيړه کې نه دي.«شي» وړاندې ګوري او ډېر څه يې پلان کړي دي. خو د پوتين لپاره نن، پرون او سبا مهم دي. هغه غواړي چې همدا اوس هر څه وکړي. تاسې په ټوله نړۍ کې سوريې ته وګورئ، حالات داسې دي چې ان امريکايان وايي موږ بېځايه له روسيې سره کمک کوو، موږ سوريې ته نشو تللی. موږ نشو کولای سيمې ته پوځونه ولېږو، هر څه د روسانو په کنټرول کې دي. د ايران او روسيې د اړيکو له وجې د ايران اغېز په عراق، سوريه او خليج هېوادونو کې هم پراخ شوی دی. ناڅاپه بيا ټرمپ دوی ټول ګوابښي.

**دوام لري...**

# پاتریک مودیانو

شفیق امیرزی



پاتريک موديانو د ۱۹۴۵ کال د جون په دېرشمه د پاريس بولني بيلانکور نومې سيمه کې زېږېدلی دی. موديانو د فرانسې په ادبياتو کې وتلی نوم دی، چې اثار يې د ادبي برخې د ناقدانو له هرکلي او تحسين سره مخ شوي دي. هغه په ۱۹۸۷ز کال کې د ګنکور جايزه او په ۱۹۷۲ز کال کې په ادبي برخه کې د فرانسې د اکاډمۍ جايزه اخيستې ده. هغه په پاريس کې وزېږېد، پلار يې آلبرت موديانو په اصل کې ايټاليوی، په فرانسه کې هستوګن شوی او کشيش و. د پلار له طرفه يې کورنۍ تر يوناني مذهبي سترو کورنيو پورې رسېږي. مور يې بيا بلژيکۍ وه او په فلمونو کې يې رول ادا کاوه. د موديانو مور پلار د دويمې نړيوالې جګړې پر مهال سره معرفي شول، اړيکه يې ژوروه شوه او واده يې وکړ. دوی تر ډېره د يو بل څنګ ته پاتې نه شول او ژر بېرته سره بېل شول. د موديانو پلار يهودي و، خو کله چې نازيانو پاريس ونيو، نو پر يهوديانو يې فشار زيات کړ. پلار يې د نازيانو قوانين ونه منل، نو له همدې امله پوځ هغه يوې نظامي قرارګا ته ولېږه او بندي يې کړ. د نازيانو تعصبي چلند داسې و چې نيول شوي يهوديان بايد ووژني، خو د موديانو پلار د يوه ملګري په مرسته له دې ځايه خلاصېږي. ډېرې سختۍ تېروي. بيا د دويمې نړيوالې جګړې پر مهال هغه په تور بازار کې په پلور او پېر بوخت وي، په ګڼو جنجالونو او ګډوډيو کې ښکېل وي، خو تر خپله مرګه ياني تر ۱۹۷۷ز کال پورې ان يو ځل هم له خپل زوی پاتريک موديانو سره سمې خبرې نه کوي او کلونه له يو بل بېل وي. موديانو يې له خپلې مور سره د سختې ژوند تېروي او دا هر څه يې پر شخصيت اغېز پرې باسي، چې په اثارو کې يې له ورايه ښکاري.

د ادبياتو د نوبل جايزې ګټونکی ژان پاتريک موديانو د ۱۹۴۵ کال د جولای پر دېرشمه، پوره ۸۲ ورځې وروسته له هغې دنيا ته راغی چې غربي اتحاد نازي جرمني ته ماتې ورکړه. له دويمې نړيوالې جګړې وروسته اروپا، د مادي ورانيو تر څنګ، له يو ستر اخلاقي بحران سره هم لاس او ګرېوان وه. د فرانسې انقلاب، د صنعتي انقلاب، د رڼاګانو د زانګو، د فلسفې او تمدن تر ډېوې لاندې، د نژاد او مذهب په نامه په ميليونونو انسانان د ځارويو په څېر ښکېل شول، ووژل شول او له بشري کرامته يې انکار وشو.

د ژان پاتريک پلار البرت موديانو چې په څلور کلنۍ کې يتيم شوی و، دې ته اړشوی و چې پلرنی يهودي مذهب پرېږدي، عيسويت و مني او د وينزويلا کاراکاس ته کډه وکړي. وروسته بيا پاريس ته راغی او د لرغونو توکيو د پلورلو په کاروبار بوخت شو. د ۱۹۴۰ کال د اکتوبر د درېيمې قانون ټول هغه فرانسويان چې اصل يې يهودي وي، له ځينو کارونو منع کوي او البرت که څه هم د تاريخ جبر خپل اصل ته ور ټېل وهلی و، ځان د يهودي په توګه نه ثبتوي، پټ ژوند غوره کوي چې په ترڅ کې يې د ناقانونه تجارت پر مټ يو څه شته هم پيدا کوي. په ښوونځي کې يې ستر ليکوال او د «پاتا فيزيک» په نامه د يو ادبي مکتب فعال غړی رېموند کونو تر روزنې لاندې نيسي. پاتا فيزيک (د ميتا فزيک مسخره شوې بڼه) په ادب کې نوي تجربې او له منل شويو اصولو څخه سرغړونه د اصل په توګه مني. ژان پاتريک موديانو له بکلوريا پورته زده کړې نه کوي او ليکوالۍ ته مخه کوي.

د موديانو سبک د ده د شخصي او کورني ژوند او د ده د عصر د سياسي، ټولنيزو، اخلاقي او ادبي پېښو يو ډول مرکب معجون دی چې هم ساده ګي لري او هم ژورتيا. هم نېغه خبره کوي او هم د طنز برخه پالي. د ده د ليکنو تر ټولو مهمه ځانګړنه دا ده چې د تېر مهال د تيارو اړخونو سپړلو ته ډېر پام کوي. د اکتوبر په نهمه د نوبل اکاډيمي موديانو ته د جايزې د ورکړې دليل (د حافظې د کارولو هغه هنر چې له انسانانو راخيستل کېدونکی برخليک يادوي او پر مټ يې د [نازي] اشغال دنيا را ښکاره کوي) وباله. د نوبل کميټې دا هم وويل چې د موديانو دنيا يوه خيالي دنيا ده او کتابونه يې يو د بل د غږ انعکاس دی.

د پاتريک موديانو وروستی لنډکی ناول (۱٦۰ مخه) چې د ۲۰۱۴ کال اکتوبر په دويمه له چاپه راووت، په دې کرښو پيلېږي: تقريباً هېڅ، لکه د يوه خزنده چيچل چې په لومړي سر کې درته ډېر سرسري ښکاري، يا لړترلړه تاسې ځان ته په ټيټ غږ، همداسې واياست چې ځان پرې ډاډه کړئ. ټليفون د مازيګر د څلورو بجو شاوخوا د ژان درګان په ځای کې، په هغه کوټه کې چې هغه ورته خپل دفتر وايه، زنګ وواهه. هغه د کوچ په تل کې له لمره خوندي، خوب وړی و او دا زنګونه چې هغه يې له ډېرې مودې راهيسې له اورېدو سره نه و روږدی، نه درېدل. ولې دومره ټينګار؟ کېدای شي چې هغه چا چې زنګ وهلی و، د ټلېفون قطع کول يې هېر شوي وي. اخر پورته شو، د کوټې هغې برخې ته ورغی چې کړکۍ ته نږدې وه او لمر په کې لګېده. د ناول داستان د همدغو ادرسونو له کتابچې پيلېږي او ليکوال درګان د دوو ځوانانو لخوا د داسې يوې هېرې ماجرا د سپړلو په چاره کې ښکېل کېږي چې ريښې يې بيا هم د تېر مهال په تيارو کې دي. د موديانو د سبک رواني، لنډې، بې تکلفه جملې د کيسې له پرمختګ سره په هر حالت کې مرسته کوي.

موديانو په دوه ويشت کلنۍ کې خپل لومړنی ناول چاپ کړ. هغه په خپل ژوند کې له ادبي ليکنو سره مينه لرله. د هغه د مور يوه ملګرې د فرانسې مشهوره ليکواله وه. يوه ورځ يې مور دی له دې ليکوالې سره (Queneau) معرفي کړ. دا معرفت د پاتريک لپاره خورا مهم و. دی له همدې ځايه بريالی شو چې له مشهورو ناشرانو سره اړيکه ټينګه کړي، ليکوالۍ ته تشويق شي او لا ډېر ليکوالان وپېژني. دی په ۲۲ کلنۍ کې بريالی شو چې د همدې مېرمنې په مرسته په فرانسوي ژبه (La Place de lÉtoile) ناول خپور کړي. دا يې د يوه يهودي ملګري په اړه ليکلی و، خاطرات و او رښتينې کيسه وه. پلار يې د دې کتاب تر خپرېدو وروسته پر موديانو سخت غوسه و او غوښتل يې د هغه ټول کتابونه له بازار ټول کړي. له دې وروسته د دواړو تر منځ اړيکې ښې نه وې. يو ځل موديانو له خپل پلار مالي کمک وغوښت، دی لا دوه ويشت کلن و، خو پلار يې غوښتنه رد کړه. بل ځل يې بيا د مور په هڅونه پلار ته ولېږل شو چې مالي مرسته ترې واخلي، خو د پلار ملګرې ښځې يې پوليسو ته زنګ وواهه او دی يې په ګوتو ورکړ چې ګواکې له دوی په زور پيسې وړي.

موديانو جالب شخصيت لري، ډېر کم به هغه په رسنيو او عامه ځايونو کې وويني. داسې هم نه ده چې هغه دې شپه او ورځې لګيا وي ناولونه دې ليکي، بلکې تر څنګ يې نور ژوند هم کوي، خو د ناولونو په ليکلو کې له پوره دقت کار اخلي. هغه دقيق سړی دی، شهرت يې نه خوښېږي، هر ځای ناسته ولاړه خوند نه ورکوي، خو غواړي کار يې دقيق او د ډاډ وړ وي. هغه په خپلو ناولونو او داستانونو کې تر ډېره د هويت پر مسئله باندې راڅرخي، د انسان روان ته لاره کوي او د انسان رواني اړخونه راسپړي.

موديانو په نوره نړۍ کې دومره مشهور نه و، ځکه په فرانسوي ژبه يې ليکل کول. هغه چې کله د ۲۰۱۴ کال د نوبل جايزې ګټونکی شو، ډېرو ته د حيرانتيا وړ خبر و. په تېره انګليسانو ته چې د دې سړي اثار يې لا لوستي نه دي، خو هغه د نوبل جايزه ګټې. د دې بل لامل دا هم دی چې د شهرت مينه وال نه دی. مخکې مو هم وويل چې نه غواړي مشهور وي، له رسنيو سره خبرې وکړي، محفلونو کې وي او هسکې ټيټې واوري. دی يوازې هغه مهال راڅرګندېږي چې کتاب يې له چاپ راووځي او يا يې د ويشلو او خپرېدو لپاره محفل جوړ شوی وي.

يوه بله خبره چې د موديانو په اثارو کې ده هغه يې د اثارو داخلي او معنوي پېچلتيا ده. په دې مانا چې يو خو هغه شعر ته نږدې نثر کاروي، په دې مانا چې يو ډول ځانګړی وزن لري. بل دا چې په اثارو کې يې تر ډېره هغه څه چې په ظاهره لولو يو بل داخلي او رواني بعد هم لري، چې هر ليکوال او ژباړن دا مسايل نه شي لېږدولی. هغه يو ځانګړی سبک لري چې همدې سبک دی ممتاز ليکوال کړی دی او د ښو ليکوالانو په کتار کې يې درولی دی. له همدې امله د نورو مشهورو ليکوالانو په پرتله د موديانو ډېر کم اثار نورو ژبو ته ژباړل شوي دي، ځکه هغه يو ځانګړی سبک لري، يو بېل فکر لېږدوي، داستان يې څو اړخونه لري، رمزونه او رازونه پکې دي او په حقيقت کې يې يوه بله نړۍ خلق کړې ده. د دې ليکوال يوه بله ځانګړنه دا ده چې د فرهنګ، ادبياتو، تاريخ او فرانسې په اړه پراخه مطالعه لري.

د موديانو اثارو ته کتونکي وايي چې هغه تر ډېره په خپلو اثارو کې پر تېرو خاطراتو او يادونو تمرکز کړی دی. هغه د حافظې د کارولو ماهر هم بولي، ځکه تر ډېره يې هغه يادونه او خاطرات ناول کړي دي چې په خپل ژوند کې ورسره مخ شوی دی. د دې تر څنګ يې د فرانسوي هويت د ساتلو او پاللو لپاره هم اثار ځانګړی ارزښت لري، هغه ته تر ډېره د هويت او حافظې ليکوال هم وايي. دی له ابهام او پېچلتيا سره مينه لري. په ناولونو کې يې د جملاتو تر شټ څو معناوې پرتې دي، د موديانو په خبره، له دې مسئلې خوند اخلي او په حقيقت کې دغه ډول ليکل اسانه کار هم نه دی. هغه په اثارو کې عالي ادبيات کاروي، هيجاني جملات راوړي او مخاطب په ډېرو مواردو کې حيرانوي. دی د ژوند پر روانو واقعيتونو ډېر تمرکز کوي. په خيالاتو کې يې هغه مسايل تحليلوي چې ورځني ژوند کې ورسره مخ شوی دی او بايد حل ورته پيدا شي.

موديانو ته د معاصر وخت مارشل پروست وايي. د نوبل اکاډمۍ چې کله ده ته د نوبل ادبياتو جايزه ورکوله، نو په ليکلي متن کې يې ويلي وو، موږ د اوس زمانې پروست ته جايزه ورکوو. موديانو د مارشل پروست په څېر د انساني ژوند بنسټيزو مسايلو ته اشاره کړې ده، د بشري ژوند د ښه کېدو لپاره يې نظريات وړاندې کړي دي، د تېرې زمانې د برم او انساني عظمت د ژوندي کولو لپاره هڅه کوي، دی وايي، هڅه کوي چې لنډ او ساده ناولونه وليکي، مخاطبين خوشاله وساتي، اړيکې ورسره ولري او نوی فکر خپل کړي. له همدې امله د نوبل بنسټ ستايلی دی او جايزه يې ورکړې ده. د نوبل بنسټ هغه ته په ۲۰۱۴ ز کال کې په بشري ژوند کې د مهمو او اغېزناکو ناولونو د ليکلو له امله د نوبل جايزه او ۱،۱ ميليونه ډالر ورکړل.

موديانو لا هم ليکل کوي، د ښه ژوند لپاره قلم چلوي، د انساني فکر لپاره ليکل کوي او هڅه يې دا ده چې بشر خپل اصلي هويت وپالي، جګړې پرېږدي، بشر ته درناوی وکړي او خپلې ستونزې حل کړي. هغه ادبياتو ته د مينې او د ژوند د برخې په سترګه ګوري، ليکل کوي ارام ليکل کوي، بيا بيا يې ګوري او په ډېرې سختۍ د دې زړه ښه کوي چې يو کتاب چاپ ته واستوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸،۷ |
| € | ۹٤،٥ |
| Rp. | ٤۹۸ |
| ₹ | ۱۰۷٥ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۸،٥ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

# د ژمنو او کړنو تر منځ اوږد واټن

عبدالوحید وحید

شک نشته چې افغانستان په تېرو دوو لسیزو کې د زده کړو، اقتصاد، دولتي بنسټونو او سړکونو جوړولو، امنیتي بنسټونو رغولو، نړیوالو اړیکو، معلوماتي ټکنالوژۍ، د کرنې او مالدارۍ او په نورو ډېرو برخو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی. د خلکو د معلوماتو، د قضاوت او حق غوښتنې وړتیاوو او د بیان د ازادۍ کچه نسبتاً تر بل هر وخت لوړه ده. حکومتي اړخ او خصوصي سکټور دواړه د پورته ذکر شویو پرمختګونو په تر لاسه کولو کې مهم او غوښن رول لري.

دا هم واقعیت دی چې زمونږ په هیواد کې جګړې او فساد دواړه زمونږ د بدبختۍ لامل ګرځېدلي، د پرمختګونو مخه یې ډپ کړې، زمونږ ملي غرور او زمونږ نړیوال اعتبار ته یې سخت زیان رسولی دی. که د پراخ مالي فساد په تړاو مونږ د مالیې د اوسني وزیر خبره مقیاس وګرځوو، نو په منځنۍ ډول د کال دوه نیم میلیارده ډالر یوازې د هیواد په ګمرکونو کې د دولتي خزانو د بډاینې پر ځای د فاسدو چارواکو جیبونو ته لوېږي. دا یوازې د عوایدو یوه سرچینه ده او اټکل یې هم بل چا نه، بلکې د مالیې وزیر کړی دی چې په ګمرکونو کې د فساد د مخنیوي دنده هم ور پر غاړه ده او داسې ښکاري چې نوموړی په فساد ککړ هم نه دی. ایا دا به ممکن وي چې په ګمرکونو کې هره ورځ د اته میلیونه ډالره فساد تر شا د وزیر تر سویې پورته مافیایي کړۍ نه وي ولاړې؟

که مونږ د ولسمشر غني د ړندو مقلدینو خبره ومنو چې جګړه ختمول د ډېرو ابعادو، ژورو پېچلتیاوو او مختلفو رمزونو درلودلو او د سولې په هکله د مخالف لوري د متکور دریځ له امله د نوموړي د وس خبره نه ده، نو د فساد پر وړاندې اړین ګامونه اوچتول او د دغې شومې پدیدې په مخنیوي کې د پاتې راتلو پړه خو یقیناً پر ارګ باندې اچولای شو. که ولسمشر سولې ته رغنده کاري ټیم او په واقعیتونو باندې ولاړه تګلاره نشي جوړولای، نو د خپلې زنې لاندې فساد په مخنیوي کې خو چټک ګامونه پورته کولای شي.

په رسنیو کې داسې ډېر راپورونه ورکړل شوي چې تر ټولو لوړ پوړي چارواکي د مالي سرچینو، پولي ذخایرو، عایداتي منابعو، بهر ته د غلا د پیسو د لېږد او نور هر ډول سیستماتیک فساد په دوسیو کې لاس لري، خو د فساد د مخنیوي په هکله په نمایشي توګه یوازې هغه څوک نیول شوي دي، چې د مافیایي کړیو برخه نه وي او د لوړې کچې اړیکې ونه لري.

د ارګ مېشتو لخوا په مختلفو نومونو او عنوانونو، د عالي شورا ګانو په شکل د موازي ادارو جوړول، له دندو څخه د نسبتاً پاکو اشخاصو لرې کول، په دوسیه جوړولو او ممنوع الخروج کولو باندې د لرې شویو چارواکو ګواښل، په دوو دریو میاشتو کې د وزیرانو او لوړپوړو چارواکو لرې کول، له بهر څخه راغوښتل شوي مجهول الهویت اشخاص په لوړو پوستونو باندې ګمارل، له بدنامۍ وروسته سملاسي بهر ته د داسې اشخاصو تېښته، په لوړو پوستونو باندې د دوه تابعیته افرادو ګمارل او داسې نورې ډېرې کړنې د فساد د پراختیا او پر نظام باندې د ولس د بې باورۍ ستر لاملونه او د ارګ مېشتو د بې کفایتۍ نښې دي.

د دې پر ځای چې د چارواکو د ګمارنې پر مهال د هغوی د وړتیاوو، تجربې، ملي تعهد، صداقت او پاکوالۍ په تړاو هراړخیز معلومات او ارزونې تر سره شي، یوازې سلیقوي اړیکې پالل کیږي او یا هم معاملې کېږي. په دغه شان حالاتو کې چارواکي هم د دندو له اشغال سره سم د فساد لړۍ پیل کړي. جزوي استثنایات به وي او په موجوده فاسده اداره کې هغه افراد انساني فرښتې ګڼم چې د فساد په روان ګرم بازار کې بیا هم د خپل ولس مظلومیت احساس کولای شي او په خورا جدي توګه یې په خپلو ادارو کې د فساد مخه نیولې ده. هغه پخوانی د کابل د پاسپورټ رییس، چې سمت، ژبه او قوم یې هم نه پیژنم، خو زما لپاره د پاکۍ یوه الګو وه، چې کله هم راته یاد شي، نو دعا ورته کوم. پاسپورټ ته مې مراجعه کړې وه، په خپله مې ولیده چې څنګه یې د کابل پاسپورټ په ریاست کې د فساد مخه نیولې وه.

دلته روانه جګړه او فساد له یو بل سره تړلي یو د بل مُمد او مُولّد دي. که د جګړې پر وړاندې پیاوړې مبارزه وشي، د فساد کچه هم راښکته کیږي او که د فساد پر وړاندې اغېزمنه او هراړخیزه تګلاره غوره شي، نو د جګړو ګراف هم ښکته راځي.

جګړو ته د پای ټکي اېښودو په موخه د حکومت هڅې چې نیمګړتیاوې لري، هغه ټولې سلیقوي دي. که جګړه ډېر کړلېچونه لري، نو د فساد پر وړاندې د اغیزمنو ګامونو نه پورته کول او د پیاوړې تګلارې نشتون په هیڅ ډول د توجیه او منلو وړ نه ده.

ښاغلی ولسمشر!

مونږ مو دښمنان نه یو، د ملي حاکمیت ځلی مو ګڼو. د یوه مشروع ولسمشر په توګه مو منو. له نظام څخه حمایت خپله دیني او ملي دنده ګڼو. د ارزښتونو د دفاع او نظام د ګواښونو په تړاو درسره کلک درېږو؛ خو د ړندو مقلدینو او د پیسو د مجنونانو د لاسونو په جعلي پړکا او د «هرڅه سم دي پاچا سلامت» په تقلبي خبرو مه غولېږئ. ژمنې او کړنې مو سره یو کړئ. په دغه مظلوم او محکوم ملت، دغه د جګړو او فساد ځپلي هېواد باندې رحم وکړئ. د فیل په غوږ کې د خوبونو وخت نه دی. په تیاره توپاني شپه کې د خطر زنګونو او د جرس غږ ته غوږ شئ! نظام ته جدي ګواښ متوجې دی.

که مخالف اړخ سوله د ارګ نیول ګڼي، نه سوله په حقه تعریفولای شي او نه یې هم د تعبیرولو وړتیا لري، نو تاسو هم قسم کړی دی چې د واک له خوندیتوب پرته د سولې په متبادله لاره به خبره هم نه کوئ، خو واورئ چې؛ که سوله غواړۍ، نو د سولې ضمانت او د نظام د ساتلو ژمنو په تر لاسه کولو باندې تمرکز وکړئ او د واک قرباني ته تیار شئ. د پراخ مالي او اداري فساد کچه لوړه ده، لوږه، فقر، بېکاري، له هیواد څخه د ځوانانو تېښته او د پانګې وتل د جدي اندېښنې وړ خبره او د هیواد امنیتي وضعیت ټکنی دی.

اوسمهال په ښپانده او سمندر کې د نجات ساحل هم ښکاري او د سمندر توپاني ښپې هم را روانې دي. له ښپو سره د لوبې پر ځای د نجات د ساحل لوري ته وخوځیږئ.

د طالبانو د سختو ځپلو، امنیتي ځواکونو ته د مخالفینو د وژلو ګواښ پرېږدئ. که مجبوري هم ده، خو دلته روانه جګړه د ویاړونو نه ده. دواړو خواوو ته د افغان بچیان وژل کېږي. د جګړو په ډګر کې عملاً د خپلو پوستو او ولسوالیو د سقوط لاملونه په جدیت سره وڅېړئ. تاسو له خپل ملت سره په خورا اوږد واټن کې قرار لرئ. تاسو ته چاپلوسان، مفسدین او ړانده مقلدین واقعیتونه نه په ګوته کوي او تاسو یې د اورېدو حوصله هم نه لرئ. زه د هیواد امنیتي ځواکونو ته په خورا درنه سترګه ګورم، هغوی جګړه کولای شي؛ خو د مدیریت په برخه کې ستونزې لري.

د ولسي باور تر لاسه کولو او له ملت سره د واټن کمولو لپاره د فساد پر وړاندې مبارزه جدي ونیسئ. د فساد په تور په ګمرکونو، ښاروالیو او څارنوالیو د مامورینو له نیولو سربېره دغه سپېځلې جګړه له خپل کور څخه پیل کړئ. تعهداتو ته ژمن پاتې شئ، ژمنې مو مه ماتوئ او له جنګسالارانو سره په ارزښتونو باندې د خپلو ګټو لپاره معاملې مه کوئ. د فاریاب اوسنی کړکېچ په ارزښتونو باندې ستاسو د بدو معاملو پایله ده چې د سیمې د استخباراتي ادارو په مرسته لا پېچلتیا مومي.

## روغتیا وزارت: تر راتلونکې یوې اونۍ به افغانستان ته د چین ۷۰۰ زره ډوزه مرسته شوې واکسین راورسېږي




په هېواد کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو له زیاتوالي سره جوخت، چین له افغانستان سره د کرونا ضد ۷۰۰ زره ډوزه واکسین د مرستې اعلان وکړ. په کابل کې د چین سفیر وانګ یو ویلي، چې چین د کرونا ویروس د لا خپراوي د مخنیوي په برخه کې د افغانستان ترڅنګ ولاړ دی.

وانګ یو ویلي: «چین به افغانستان ته ۷۰۰ زره ډوزه د کرونا ضد واکسین ورکړي، موږ پر ستونزو د بریا لپاره له افغانستان سره یو.» په ورته مهال عامې روغتیا وزارت وایي، ټاکل شوې چې د چین دا مرسته شوې واکسین یوه اونۍ وروسته افغانستان ته ورسېږي.

د دغه وزارت مرستیال ویاند میرویس علیزی وایي: «چین له افغانستان سره د ۷۰۰ زره ډوزه واکسین د مرستې ژمنه کړې، دا واکسین به ډېر ژر افغانستان ته ورکړل شي، دا د سینوفارم کمپنۍ تولید شوي واکسین دي چې افغانستان ته له رسېدو سره سم به‌یې هېوادوالو ته د تطبیق چارې پیل شي.»

علیزی زیاتوي چې تر دې دمه د هندوستان د ۵۰۰ زره ډوزه مرسته شوي واکسین په ګډون افغانستان ته د کرونا ضد یو میلیون ډوزه واکسین وارد شوی، چې ۵۷۰ زره‌یې تطبیق شوی او کم شمېر یې پاتې دی.

د عامې روغتیا وزارت د معلوماتو پر بنسټ، تر دې دمه چین، هند، د روغتیا نړیوال سازمان او د اسیا پراختیایي بانک له افغانستان سره د کرونا ضد واکسین مرسته کړې او یا یې هم د مرستې ژمنه کړې ده.

چین په داسې حال کې له افغانستان سره د کرونا ضد واکسین د مرستې ژمنه کړې، چې په دغه هېواد کې ورځ تر بلې د کرونا ویروس مثبتې پېښې زیاتېږي.

د عامې روغتیا وزارت د تازه شمېرو له مخې، په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د کرونا ویروس ٦۲۸ مثبتې پېښې ثبت شوي او له امله‌یې ۲۴ کسان مړه شوي دي.

دغه وزارت وایي چې په دې سره په هېواد کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر نږدې ٦۷ زره ته ورسېد او دغه‌شان تر دې ترې ۲،۸۳٦ کسان مړه شوي دي، خو دا رسمي شمېرې دي او ښایي له نا ثبت شویو پېښو سره شمېر له دې هم لوړ وي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ !
وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



سه شنبه د ۱۴۰۰ د غبرگولي ځلورمه | د ۲۰۲۱ د مي ۲۵مه | ۷۲۱مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۷ | ۳٦ | ۲۹ | ۳۵ | ۳۸ | ۲۷ |
| ۱۳ | ۱۸ | ۱۷ | ۲۲ | ۲۲ | ۱۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۴ | لمر ختل ۰۴:۴۵ | ماسپښين ۱۱:۵۱ | مازيگر ۰۴:۴۹ | ماښام ۰۶:۵۶ | ماخوستن ۰۸:۳۱

## نړۍ



**تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا وبا د مړو شمېر نږدې درې نیم میلیون کسانو ته رسېدلی دی** ۳

## د اسراییل او فلسطین تر منځ له سختو جګړو وروسته، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر سیمې ته سفر کوي



د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن منځنی ختیځ ته ځي چې د اسراییل، فلسطین او د سیمې له مشرانو سره د غزې د اوربند په اړه خبرې وکړي.
دا منځني ختیځ ته د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر په توګه د بلېنکن لومړی رسمي سفر دی، دا سفر داسې مهال کېږي چې هلته تازه اسراییل او حماس له ۱۱ ورځنۍ جګړې وروسته اوربند کړی دی.
امریکایي چارواکي وايي چې غزې ته د بشري بېړنیو مرستو د انتقال او د غزې د بیا ودانو لپاره د نړیوالو مرستو د راټولولو او په دې برخه کې د ملګرو ملتونو او فلسطیني چارواکو سره ګډ کار کولو ته متعهد دي.
بلېنکن سي ان ان خبري شبکې ته ویلي: «د اوس لپاره زموږ دوامداره تمرکز په بشري حالت دی چې بیا رغونه او ابادي پیل شي او له فلسطینیانو، اسراییل او په سیمه کې له نورو شریکانو سره یو ځای (دغه بهیر) کې دخیل شوو.»
بلېنکن په خپل ټویټر کې لیکلي چې د ولسمشر بایډن په غوښتنه منځني ختیځ ته ځي چې هلته د سیمې له مشرانو سره ووینې. په همدې حال کې د مصر منځګړې په غزه کې په سفرونو بوخت دي او په لوېدیځه غاړه کې یې له ولسمشر محمود عباس سره لیدلي چې په غزه کې پیل شوی اوربند دوامدار شي.

## اروپايي ټولنه: پر بېلاروس به لا زيات او سخت بنديزونه ولګول شي

د بېلاروس د رژيم لهخوا د رايان اير الوتکې د راګرځولو پېښې د اروپايي ټولنې مشران په غوسه کړي دي. ډېريو دغو مشرانو پر بېلاروس د شته بنديزونو د لا سختېدو غوښتنه کړې؛ ځکه د دوی په خبره، د يوه سياسي مخالف او خبريال د نيولو لپاره يې دا الوتکه يرغمل کړې وه.
د اروپايي کمېسيون مشرې اورزولا فن دير لاين په يوه ټويټ کې ليکلي: «په بېلاروس کې د رژيم ناقانونه او ظالمانه کړنه به عواقب ولري. د رايان اير د الوتکې د هايجيک يا يرغمل پېښې په عاملينو به بنديزونه ولګول شي.»
تر دې مخکې د ناټو سرمنشي ينس ستولټنبرګ او ګڼو اروپايي مشرانو د بېلاروس لهخوا د رايان اير د الوتکې يرغمل نيونه يوه خطرناکه پېښه بللې او ټينګار يې کړی چې په جدي توګه به وڅېړل شي.
د يادونې ده چې د رايان اير يوه الوتکه د يونان له پلازمېنې اتن د ليتوانيا پلازمېنې ويلينوس ته روانه وه، چې د بېلاروس د جنګي جېټ لهخوا راتاوه او په مېنسک کې ناستې ته اړ کړای شوه. د ياد هېواد دولتي خبري اژانس بېلتا راپور ورکړی، چې په الوتکه کې د بم د موجوديت د ګواښ په خاطر الکساندر لوکاشينکا شخصاً يوه (مېګ-۲۹) جنګي جېټ د رايان اير د الوتکې د ايسکورټ يا بدرګې لپاره وګومارله.


## خپلواک:
## شورای عالی دولت نقش تصمیم گیرنده خواهد داشت



یک مشاور بلند پایهٔ رئیس‌جمهور غنی می‌گوید که شورای عالی دولت، یک شورای مشوره‌دهی و تصمیم‌گیری دربارهٔ صلح، جنگ و روابط خارجی کشور خواهد بود.
اکرم خپلواک، مشاور سیاسی رئیس‌جمهور و معاون شورای عالی مصالحهٔ ملی می‌گوید که مشوره‌ها دربارهٔ نهایی شدن شمار و ترکیب شورای عالی دولت نهایی شده‌اند و رایزنی‌ها دربارهٔ تاریخ و چه‌گونه‌گی برگذاری نخستین نشست این شورا، ادامه دارند.
او شمار اعضای این شورا را در حدود ۲۰ تن می‌داند و می‌گوید که شورای عالی دولت یک دارالانشا نیز خواهد داشت.
این مشاور سیاسی رئیس‌جمهور از نهایی شدن مشوره‌ها دربارهٔ آغاز به‌کار شورای عالی دولت خبر می‌دهد و می‌گوید که سیاست‌گران می‌کوشند تا نخستین نشست این شورا هرچه زودتر، برگذار شود.
او در ادامه گفت: «تا امروز مشوره ها تکمیل است لست هم انشالله نهایی است ما سر بخش دوم که اجندای اول و طرز شروع کردن جلسه اول کار می کنیم و این را هم با تمام دوستان مشوره می کنیم، مشوره اول سر ایجاد شورا بوده دایر کردن جلسه کدام روز باشد پس از مشوره ها با کلان های کشور به زودی دایر می شود.»
در حالی که پیش از این، اختلاف دیدگاه‌ها میان حکومت و سیاست‌گران دربارهٔ چه‌گونه‌گی صلاحیت‌های شورای عالی دولت وجود داشت، اما آقای خپلواک تأکید کرد که شورای عالی دولت در مسایل حکومت‌داری و قانونی، کاری ندارد و به مسایل صلح و جنگ و روابط افغانستان با کشورها خواهد پرداخت.

## ژوند

## د شیاومي ۲۰۰ مېګاپکسله کامره لرونکی موبایل راځي



تر دې دمه د ځیرکو موبایلونو تر ټولو پیاوړې کامره ۱۰۸ مېګاپکسله ده. دغه سېنسر د سامسُنګ کمپنۍ تولید دی او اوس دغه کمپنۍ غواړي چې ۲۰۰ مېګاپکسله کامره هم خرڅلاو ته وړاندې کړي. له همدې امله ډېر ژر به د نړۍ لومړنی ۲۰۰ مېګاپکسله کامره لرونکی موبایل خرڅلاو ته وړاندې شي او دغه موبایل به د سامسُنګ پر ځای د کومې چینایي کمپنۍ وي. له دې وړاندې هم شیاومي لومړنۍ کمپنۍ وه چې د سامسُنګ کمپنۍ ۱۰۸ مېګاپکسله کامره لرونکی ځیرک موبایل یې خرڅلاو ته وړاندې کړ. که څه هم ځینو راپورونو کې ادعا شوې چې د زي ټي اي کمپنۍ نوی اېکسون ۳۰ به لومړنی ۲۰۰ مېګاپکسله کامره لرونکی ځیرک موبایل وي، خو شیاومي کمپنۍ هیله څرګنده کړې چې تر ټولو وړاندې به دوی ۲۰۰ مېګاپکسله کامره لرونکی ځیرک موبایل خرڅلاو ته وړاندې کړي.
دغه کامره به د لوړ کیفیت لرونکو تصویرونو او ۸کې ریزلوشن لرونکو ویډیوګانو ثبتول اسانه کړي.

## د ټپونو په رغېدو کې د ویټامینونو رول



د یوې نوې څېړنې له مخې معلومه شوې چې ځینې ویټامین او غذایي توکي د زخم ښه کېدو پروسه تېزوي، خو د شکر او زړه د ناروغیو په ګډون په ځینو سرطاني ناروغیو کې بیا خنډ رامنځته کوي. په دې ډول له عملیاتو او ژورو زخمونو وروسته له ځینو سبزیجاتو، غذایي توکو او معدني موادو څخه ګټه پورته کولی شئ. د څېړنې مرکزي نقطه دا ده چې ځینې زخمونه داسې وي چې عام خواړه ورته هیڅ ګټه نه رسوي، چې ثبوت یې په دودیز طب او حکمت هم شته. په غوښه، دالو او وچو مېوو کې موندل کېدونکی اهم توکی ارګیناین شته، چې د وینې دوران ګړندی کوي او پروټین برابروي. کله چې غذایي توکي پر زخم راټول شي، نو په ژر ښه کېدو کې مرسته کوي. دغه راز په ماهي، پالکو، د چرګ په غوښه، لوبیا او ګلپي کې د ګلوټامین ماده وي چې دفاعي سیستم پیاوړی کوي او نوي نسجونه پیدا کوي او په دې ډول کولاجین د زخم په ښه کولو کې هم مرسته کوي او ترڅنګ یې زنک، ویټامین سي، ویټامین اي او ویټامین بي ۱۲ هم د زخم په ښه کولو کې مهم رول لوبوي.


کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank